مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۸/۱۱/۳۰

# موري منته چې ويده دې کړمه!



بېگاه مې خوب ليده ماشوم يمه او مور غواړمه

ږلی باران، لاره رانه ورکه وه او کور غواړمه

بېگاه په خوب کې وم جگ شوی

روان شوی وم په بله باندې

سر مې په ورهَ و لگېدلی، هېڅ پوه شوی نه وم

بيا مې مور، مور ويلي وو

چا څملولی وم، ښه درونډ ويده وم

سهار چې ويښ شوم

تر برستني لاندې ورو مې ووې:

موري منته چې ويده دې کړمه!

چا غږ ونه کړ

چې کتل مې نه وه

په بيره پوه شوم چې ماشوم نه يم او مور هم نشته

مور دېره، دېره لرې، لرې رانه تللي وه نور

۲۰۱۸/۱۱/۲۰

هېدرسليف

ډنمارک



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ